ايمل « مرُوند »
د نشر نیټه : ۱۳ جنوری ۲۰۱۳ میلادی

# د ختيځ ادبي بهير ۲۶ مه اونيزه غونډه

## غزل د فورم له پلوه په ځوه ډوله دی

دا اونی د ختيځ ادبي بهير په اونيزه ناسته کې د ننګرهار دارالمعليمين د پښتو څانګې استاد نصير احمد ښاد بهير والو ته په همدې اړه هر اړخيز معلومات ورکړل.ختيځ ادبي بهير خپله ۲۶ مه اونيزه غونډه د ( ۱۳۹۱ ) کال د جدي (لیندی) مياشتې په ۲۲ مه نيټه د معمول سره سم د جلال اباد ښار د ميدودتيک په انګړ کې د جمعې په مبارکه ورځ ترسره کړه .
غونډه سهار نهه بجې قاري راحت ګل زيارمل سوکال د قران پاک د څو مبارکو اياتونو پر تلاوت پرانيستله. مشري يې له کونړه راغلي مېلمه عنايت ساپي کوله د ميلمه په توګه رياض الله شفق ناست و او کوربتوب يې عبدالله هوډ کولو.
د دريځ چارې جمال ثاقب سمبالولې او ګزارش ايمل مرُوند ليکه.د تيرې ناستې ګزارش مرُوند ولوستلو او د بهيروالو لخوا وستايل شو .
د غونډې لومړۍ برخه ادبي درس ته ځانګړې شوې وه او د ژمنې سره سم نصير احمد ښاد د پښتو غزل د فورم او هندسي جوړښت له پلوه په زړه پورې ادبي درس وړاندې کړ .
ښاعلي ښاد غزل د جوړښت له پلوه بهيروالو ته تشريح کړ او ځای ځای يې د ګدونوالو پوښتنو ته هم ځوابونه ويل.دغه ادبي درس نږدې يو ساعت دوام درلودلو، چې د غزل د جوړښت په اړه په کې ډېر په زړه پورې معلومات وړاندې شول .
تر ادبي درس ورسته يوه ازاده مشاعره وشوله، چې د يادوشوو کسانو سر بېره په کې دغو ښاغلو هم خپل شعرونه وويل:
ظاير خان ياد، استاد شېرحسن کمالزي، دوست محمد دوست، خوشال حيران، اکمل ظاهر، عرفان الله بيدار، محمد شريف شاهين، صداقت غورځنګ، طارق تسل، بختيار ساحل، فريدالله ملاتړ، صاحب الله عابد، بازمحمد عابد، محمود خزان، فهيم رحيمزي، هلال عاجز، سيد هدايت الله شيدا، ضياالدين همت مل، احمد جمال جمال، اکرام الله اکرام، انجينر زيارمل سوکال، او نهضت شېرزاد .
تر مشاعرې ورسته د دې ناستې مشر مېلمه عنايت ساپي ته بلنه ورکړل شوه، نوموړي خوښي ښکاره کړه چې د ختيځ ادبي بهير په اونيزه ناسته کې د ګډون وياړ لري .
هغه غونډه ډېره ښه وارزوله او زياته يې کړه چې ډېرې نوې او ګټورې خبرې له بهيره له ځان سره وړي .

عنایت ساپي وویل شاعران د ټولنې په سمون کې ډېر زیات مهم رول لري. ټینګار یې وکړ چې شاعران باید خپل شعرونه د صلحې او د ټولنې د اصلاح لپاره ولیکي .

په پای کې یوتن بهیروال فهیم رحیمزي خپله نوې تازه چاپ شوې شعري ټولګه په بهیروالو وویشله او د راټلونکې اونۍ لپاره وټاکل شوه، چې د محمود خزان د تازه چاپ شوې شعري ټولګې مخکتنه به کیږي .
غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده .

ریپورټر: ایمل « مړوند »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی